# لر او بر پښتنا نه

دا څه حال د پښتنو دي لر او بر کي
ترخي ژوند څه په کا بل څه په خیبر کي
د ا فغا ن غلیما ن لاس سره یو کړي
جوړوی د سیسی څه په د ننه څه بهر کي
پنجا بی کا سه لیسا ن پنځم ستن په د ننه
سجل شوی د «آی اس آی » په دفترکي
طا لبا ن او اشرار بند گا ن د پنجا ب
افغان وژنی هره ورځ په ختیځ اوباخترکی
د ا فغا ن د شهید مور په چیغو ژاړي
خوښی نه لري هغی په هیڅ یوه اخترکی
دخوشحا ل له مزاره د غیرت آوازخیژی
یوه نرنه پیداکیږی پښتنو ستا سو تبرکي ؟
ماله نیامه خپله توره د مغل په مخ راویست
دوحدت آوازمی لوړکړ سراسرپه اشنغرکی
بند گی می د مغلوو قبول نکړ
تا سي ولي ویده یا ستي لا بستر کي
زه په گور کي له دی وضع نا قراریم
سره یوو شي جرگي وکړي په محضر کي
یو د بل سره صفونه خپل نژدی کړي
غمشریک شي د وطن په خیر اوشرکي
دغلیم په مخ یو موټی او یو لاس شي
هر د ښمن کړي مخامخ په لوی خطر کي
د وطن دټول خوارانو ژوند سمبا ل کړي
مه پریږدی چي شی سوالگر په هر درکي
پر یتیمو او بی وزلو رحم وکړي
اوښکی پاک کړي د خوارانو هر مقر کي
د ظا لم په مخ صفونه خپل عیا ر کړي
کړی د ښمن رسوا د خلکو په نظر کي
د ځواکمنو اوبر لاسو چوپړ مه شيي
د ښمن وریته کړي داور په مجمر کي
په اتفا ق سره وطن مو آباد شي
که وطن مو کړ سمسور په سم اوغر کي
په همت مو دا وطن به گلستا ن شی
ښه به ښکلی را ښکاره شي هر منظر کي

په هر بڼ او هر چمن مرغان به آواز کړي
سیلانیا ن به ننداری کړی خپل سفرکي
د ګولیو او د مرمیو غږ به نه وي
دا وطن به شي آرام په سراسر کي
د خیبر لاره د تلو او د راتلو شي
(مل) یاران سره بنډار کړي پیښور کي
****

**پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»**

**کریفلد جرمنی «08-02-2021»**